اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال سوم شماره پنجم
شماره مسلسل ۸۶
یکشنبه ۱۵ جدی ۱۳۸۱ هـ ش
۳ ذیقعده الحرام ۱۴۲۲ هـ ق
۵ جنوری ۲۰۰۳ م

PROPERTY OF ACKU

موانع بزرگ در راه بازگشت مهاجرین افغان قرار دارد

اداره امور مهاجرین سازمان ملل متحد اعلام داشت که موانع بزرگی در راه بازگشت تعداد بیشتری از کتله چار ملیونی مهاجرین افغان که خواهان برگشت به وطن شان اند وجود دارد.

کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور مهاجرین UNHCR در اعلامیه که روز جمعه در ژنیو منتشر ساخته است وضعیت کنونی افغانستان را برای عودت کننده گان نا مطمین خوانده افزوده است که شرایط مساعدت کمک رسانی برای عودت کننده گان افغانستان تا هنوز تکمیل نگردیده است در این اعلامیه به نکات بارزی که باعث کندی عودت مهاجرین و جلوگیری از تسریع پروسه برگشت مهاجرین افغان می گردد نیز اشاره شده است نا امنی، نابسامانی وضعیت اقتصادی و جنگ و در گیری های قومی منحیث معلول ها شناسایی شده است. اعلامیه بر اقدامات عاجل بخاطر حل این مشکلات و جلوگیری از مهاجرت دو باره عودت کننده گان تاکید نموده اضافه کرده است که طی سال گذشته میلادی بیش از یکنیم میلیون افغان به کشور شان برگشته اند که توسط UNHCR کمک شده اند این تعداد شامل دو هزار و شصت و یک هزار عودت کننده از کشور ایران و ده هزار از کشور های اسیای میانه نیز می شود البته رقم زیاد تر عودت کننده گان را مهاجرینی تشکیل داده است که از کشور پاکستان به خانه های شان در افغانستان برگشته اند. نا گفته نماند که دو صد هزار مهاجر دیگر بدون استفاده از کمک های کمیشنری سازمان ملل راه کشور شانرا پیش گرفته اند.

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی

د هېواد د کابینې دغړو سره د مرکو او دهغوی د تر سره شوو کارونو په هکله هېوادوالو ته د معلوماتو د وړاندې کولو په لړ کې مو دادی په دې ګڼه کې په بهر کې د میشتو افغانانو د چارو وزارت وزیر ښاغلی منګل حسین سره مرکه کړېده چې درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

خبریال: ستاسو وزارت یو نوی جوړ شوی وزارت دی، که د خپل وزارت د کار د استقامت په هکله رڼا واچوی؟

ښاغلی منګل حسین: رښتیا همداسې ده، دغه وزارت د بېړنی لویې جرګې څخه وروسته د یو لړ ضرورتونو په بنسټ جوړ شو، زموږ اساسي دنده داده چې د هغو افغانانو د تحصیل، تخصص او وظایفو په هکله معلومات حاصل کړو. چې دهېواد څخه بهر اوسیږي، موږ باید دا تثبیت کړو چې په کومو، کومو هېوادونو کې زموږ په څه تعداد انجنیران، ډاکټران او د بېلابېلو برخو او رشتو متخصصین او کار پوهان اوسیږي، او همدا راز په دې هکله هم باید معلومات ولرو، چې دغه کدرونه او متخصصین د کار کولو څومره توانایي او انرژي لري.

په ډېرې خواشینې سره باید یادونه وکړم چې زموږ په هېواد کې د بدو او نا مساعدو شرایطو په راتګ سره څو، څو ځله د وطن کارپوهان، متخصصین مسلکي او تعلیم یافته خلك د هېواد پرېښودو ته مجبور کړای شول، دغه څېړو څو واري زموږ متخصصین د هېواد څخه بهر ګوزار کړل، او پردیو هېوادونو ته یې د ځان او سر او خپلو اولادونو او کورنۍ د ساتلو په خاطر تګ ته اړ کړل، کله چې موقتي اداري او بیا وروسته انتقالي اسلامي اداري په کار پیل وکړ، موږ ډېر لږ متخصصین او کارپوهان په هېواد کې درلودل، چې هغه هم په نشت حساب و، همدا راز یو شمېر دغه کسان د انجوګانو له خوا جذب شول. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی د وطن بیا رغاونه د

پاتی ۲ مخ

امریکایي عسکر د پاکستان خاورې ته د اوښتلو حق لري

د متحده ایالاتو پوځي چارواکو ویلي دي چې دمتحده ایالاتو عسکر دا حق لري چې د القاعدې او طالبانو په هغو کسانو پسې د پاکستان خاورې ته واوړي چې له افغانستان څخه پاکستان ته تښتیدلي دي.

په افغانستان کې د امریکایي عسکرو ویاند ستیفن کلیټر ویلي دي چې دا پالیسي یوه مخکینۍ پالیسي ده خو تر اوسه په رسمي توګه اعلان شوې نه وه. ده دا هم وویل چې پاکستان په دغه پالیسي خبر دی او دا پالیسي یې منلې ده. پاکستان په سیمه کې د متحده ایالاتو هغه نیږدې ملګرې دي چې د تروریزم ضد جګړې په وړاندې د امریکا تر څنګ ولاړ دي. او اوس هم د متحده ایالاتو په زرګونو عسکر نه یوازې د افغانستان او پاکستان په ګډه پوله میشت دي تر څو د القاعدې او طالبانو تښتیدونکي پلویان و خاري. بلکې دننه په پاکستان کې هم یو شمېر ادې او قرارګاوې لري.

په عراق د احتمالي برید په وړاندې غبرګون

د ټول پاکستان مذهبي ډلو په عراق باندې د امریکا احتمالي برید د لاریونونو په ترڅ کې وغندلو.

لاریوال د جوماتونو مخې ته را غونډ شول او د امریکا پر ضد یې شعارونه ورکول د پاکستان مذهبي ډلې د پاکستان د دغې پالیسي سخت مخالف دي چې په تروریزم ضد جګړه کې د متحده ایالاتو سره مټ او مرسته کوي. دوی له سیمې د امریکایي عسکرو د وتلو غوښتنه هم کوي.

باید ووایو چې څه موده وړاندې د ترکیې د استانبول په ښار کې مسلمانانو او د بشري حقوقو مدافعانو په هغ لاریون کې برخه واخیسته چې په عراق د امریکا د احتمالي برید پر ضد و.



تا جایی که دیده می شود "اکتید" موسسه عهده دار امور باز سازی سالنگ ها، با وجود و عده ها و تبلیغات فراوان تا کنون نتوانسته است مشکلات زیانبار موجود در شاهراه سالنگ راچاره سازی کند.

از قرار معلوم همه تلاش های این موسسه در گرفتن بودجه از USID خلاصه شده بود

دلوی او بښونکی خدای په نامه

سرمقاله

فرمانونه او غبرګونونه

د افغانستان د منځمهالی اداري د مشر محترم حامد کرزی له خوا په هېواد کې د واقعي نظم د راتلو او ټینګېدو په خاطر یو شمېر فرمانونه خپاره شویدي. ددې فرمانونو په عملي کولو کې به هېواد خپله لاره بیا مومي او ګران هېوادوال به د بدمرغیو څخه وژغورل شي. مونږ په دې کرښو کې په هغه وروستې فرمان رڼا اچوو چې یو پوځي چارواکي نه شي کولای. ملکي دنده هم پر مخ یوسي. چې دا فرمان هم د افغانانو له خوا په تودو هرکلیو ونمانځل شو دا فرمان چې په هغو چارواکو لکه د بلخ، هرات، کندز، کندهار او ننګرهار مسوولین شامل دي. ددغو عالیرتبه چارواکو له خوا په یوه پلمه او بله پلمه منفي خواب ورکړ شو. د بېلګې په توګه دجنرال دوستم، جنرال عطا محمد او اسماعیل خان له خوا داسې څرګندونې وشوې چې دا فرمان نوموړې چارواکي په پام کې نه نیسي یعني ددې فرمان موخه پورتنې شخصیتونو سره ددوی په ورځنو چارو کې کار نه لري. همدا ډول د ننګرهار د ولایت یو عالیرتبه چارواکي پخپل یوې مرکې کې څرګنده کړه چې مونږ د منځمهالی اداري د مقرریو سره پدې ولایت کې د نظر یووالې نه لروخکه ما د محترم حامد کرزی سره توافق کړې چې پرته زما د وړاندېز او موافقې نه به څوك دې ولایت کې په کار نه ګماري.

که چېرې د پورتنیو چارواکو څرګندونو ته څېر شو نو جوته کېږي چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې څو خپل سری منځمهالې اداري و جود لري چې د مرکزي منځمهالې اداري د فرمانونو او لارښوونو پرته د ټوپك په زور خپلې چارې پر مخ بیایي نو افغانان پدې باور دي لکه څنګه چې القاعده او طالب ګوښه شونو دا ټوپك سالاران چې د یوه ملي مرکزي دولت او د بیا رغونې په چارو کې ستر خنډدي نو ددې ستونزې له پاره منځمهاله اداره نه ځان، نه افغانان او نه نړیوال وغولوي دوی باید د افغان ولس او نړیوالې ټولنې په مرسته د قانون او فرمان د تطبیق لارې چارې برابرې او دقانوني اداري په توګه په ټولو ټوپکیانو فرمانونو عملي کړي.

مقامات حکومتی و جامعه امداد گر بین المللی. در اولین هجوم سرما که مساله زا شد ناگزیر به تجدید نظر. د رپلان مطرحه امداد زمستان گردید.

با وجود اطمینان آماده گی حکومت در مقابله با چالش های زمستانی اخیراً در اولین هجوم سرما، حادثه جانگذار سپین بولدک بیش آمد، که شماری به شمول اطفال جان باختند، شاهراه سالنگ بابندش های مقطعی رو به رو گشت، و کرایه انتقال یک مسافر از مزار شریف به کابل، طور بی سابقه تا یکهزار افغانی رسید که مسافرین میسر دشوار گذر دره شکاری حاجی گک در سال های قبل پرداخت چنین رقم بلندی از کرایه را به خاطر نداشتند، همچنان سرک های منتهی به ولسوالی ها المار_ قیصار، بلچراغ _ کوهستانات میمنه، شیراز_ گرزیوان سرپل، تارغوچ _ گلورز سمنگان، حاجی گک_ بهسود، بامیان، یکاولنگ_ قرغنتو و بالامرغاب بروی ترافیک مسدود گردید.

به منظور پی گیری مسایل پیش آمده، و رفع و اهمه از حملات بعدی سرما، که دور از انتظار نیست، با مرکز معلومات وزارت احیا و انکشاف دهات در تماس شدیم که قبلاً از طرح یک برنامه واحد امدادی برای آسیب پذیران در فصل زمستان، از نام حکومت با همکاری ارگان های ملل متحد و ادارات غیر ملکی، در کشور خبر و اطمینان داده بود.

س: با وجود اطمینان آماده گی ها د رمقابله با چالش های زمستانی، در اولین هجوم سرما مشکلاتی بروز کرد. با توجه به اینکه حملات بعدی سرما نیز دور از انتظار نخواهد بود. چه می خواهید بگویید؟

ج: تجربه مقابله با اولین هجوم سر ما ، با توجه به حوادثی که پیش آمد، مقامات حکومتی و جامعه امداد گر بین المللی را وادار به تجدید نظر در پلان مطروحه امداد زمستان نمود. در برنامه امداد زمستان پیشبینی شده است که برای بیش از دو میلیون نفر که

صفحه ۲

نامه، وارده

ص ۴

په اروپا کې څلور تنه مړه شول

د اروپا په ډېرو سیمو کې د سختو بارانونو له امله د سیندونو اوبه له بریدونو اوښتې دي او په ځینو سیمو کې سخت سیلابونه راغلي دي.

ددغو سیلابونو له امله تر اوسه کم تر کمه څلور کسان وژل شوي دي. په المان، فرانسې بلژیك، بریتانیې او پرتګال کې ددغو سیلابونو له امله د خلکو په تګ راتګ کې ستونزې پیدا شوې دي اوس هم د موټرو په لاړو او د ګاډي په پټلیو کې ډېرې اوبه ولاړې دي.

برای نخستین بار یک قضیه غیر سیاسی رسما به بر رسی سپرده شد

وزیر داخله افغانستان هیاتی را بخاطر بر رسی قضیه قتل حاجی کفتان صراف سرای شهزاده و سه تن از اعضای خانواده اش که حدود دو ماه قبل توسط سارقین مسلح بقتل رسیده بودند موظف ساخت. هیات تحت ریاست ملا تاج محمد والی کابل شروع بکار خواهد کرد که در ترکیب آن روسای مبارزه با جرایم جنایی. اداره امنیت پولیس و نماینده وزارت دفاع ملی شامل بوده و موظف است تا عاملین قضیه را شناسایی و دستگیر نمایند.

حاجی کفتان باشنده قلعه فتوح ولسوالی چاردهی در یکی از شب های ماه مبارک رمضان توسط گروهی از افراد مسلح بقتل رسید و دزدان علاوه بر غارت مقادیر پول نقد و زیورات از منزل مرحومی دو پسر و داماد او را نیز بقتل رسانیده بودند.

مقامات وزارت داخله اظهار داشته اند که این هیات به دستور مقام ریاست اداره

صفحه ۲

ناروی در بازیابی آثار موزیم کمک می کند

سفارت کشور ناروی در کابل روز جمعه اعلام داشت که در باز گردانیدن آثار به سرقت برده شده تاریخی افغانستان از موزیم ملی انکشوربا اداره آقای کرزی رئیس اداره انتقالی اسلامی افغانستان کمک خواهد کرد.

وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان با پخش این خبر افزوده است که شاژدافیر سفارت ناروی در کابل هنگام ملاقات با وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان اماده گی کشورش را برای کمک با بنیاد های فرهنگی افغانستان وعده داده است قابل یاد آوری است در جریان جنگ های تنظیمی در پایتخت و ولایات افغانستان

صفحه ۲

مقامات حکومتی و جامعه

نهایتاً آسیب پذیر می باشند در طول فصل زمستان معاونت های لازم صورت گیرد. عملیه امداد زمستان طوری هماهنگ گردید تا بر علاوه ادامه کمک های جاری پیش بینی شده در پلان، مقدار کافی مواد امدادی ذخیره گردد تا در صورت حدوث واقعات غیرمنتظره مورد استفاده قرار گیرد. بر علاوه در قسمت موثر شدن امر نظارت از وضعیت هموطنان آسیب پذیر در مناطق مختلف، میکانیزم های نظارت و هماهنگی عملیه امداد در سطح ولایات تاسیس و میکانیزم موجوده در سطح ملی بیشتر تقویه گردیده است.

وزارت عودت مهاجرین و کمیشنری عالی سازمان ملل برای مهاجرین توزیع کمک ها به ۳۵۰۰ خانواده، باشنده کمپ های سپین بولدک، را نشدید نموده و به تعقیب توزیع مقدماتی دو صد تن مواد غذایی ۳۵۰۰ کمپل ۳۵۰۰ لحاف، مقدار اضافی ۲۵۰۰۰ کمپل را به کندهار به منظور توزیع و ذخیره ارسال نموده است. بر علاوه یک هزار بسته مواد کمکی (سامان آلات آشپزخانه، صابون و غیره) چهار هزار جوره بوت طفلانه، نه هزار و پنجصد جوره البسه گرم مردانه، زنانه و طفلانه برای باشندگان کمپ های سپین بولدک و مهاجرینکه در منطقه، انتظار چمن به سر می برند، توزیع کرده است.

کمیشنری عالی مهاجرین کار توزیع مواد امدادی را که شامل کمپل، لحاف، بخاری و مواد سوخت میگردد به سی هزار خانواده، بیجا شده وعودت کننده سرعت بخشیده است.

کاراعمار ۲۰۰۰۰ سرپناه از رقم مجموعی ۴۰۰۰۰ سرپناه پلان شده برای مهاجرین عودت کننده در کشور تکمیل گردیده است.

در رابطه به توزیع کمک های زمستانی با سوابک (یک موسسه غیر حکومتی افغانی) قرار داد به عمل آمده است تا برای ۹۴۸۰ خانواده در ولسوالی پنجوایی و ۵۸۰۰ خانواده در ولسوالی میوند ولایت کندز و ۴۰۰۰ خانواده در ناحیه مختار و ۱۸۰۰ خانواده در شهر لشکرگاه کمک های عاجل زمستانی را توزیع نماید بر علاوه با موسسه (ANCC) توافق صورت گرفته است تا کمک های مواد غذایی را که از جانب موسسه مواد غذایی جهان فراهم گردیده است به مردم بیجا شده در ولایت زابل توزیع کند. بر علاوه از طریق همین موسسه توزیع مواد کمکی غیر غذایی به ۲۰۸۰ خانواده در ولسوالی شاه جوی و ۱۵۰۰ خانواده در ولسوالی گلدک و لایت زابل جریان دارد. برای ۲۰۶ خانواده مهاجر عودت کننده که در مرکز ترانزیت دلارام ولایت نیمروز اسکان دارند. کمک های زمستانی شامل مواد غذایی و غیره توزیع گردیده است.

کمیشنری عالی مهاجرین برای ۳۵۰ خانواده بی جا شده در شهر کندز و بی جا شده گان ولسوالی های چهار دره، علی آباد، قلعه زال و دشت ارچی مواد لازم کمکی از قبیل بخاری، کمپل، ترپال پلاستیکی، البسه طفلانه وخیمه را تهیه دیده که آماده توزیع می باشد.

همچنان در ولسوالی های خواجه غار، رستاق، بنگی، چال، اشکمش، کلفگان و شهر تالقان ارزیابی مقدماتی صورت گرفته و کمک های مشابه ولایت کندز در این مناطق آماده توزیع می باشد. از سوی موسسه خیریه آقا خان ۵۷۸۰ خانواده، در ولایت بغلان ۱۵۰۰ خانواده در ولایت کندز، توزیع کمک های لازم شامل بخاری، کمپل، ترپال و غیره عنقریب شروع خواهد گردید. همچنان توزیع مواد غذایی از طریق موسسه اکتید به ۱۵۰۰ خانواده بی جا شده در این ولایت به زودی آغاز میشود. در ولایات غور، بادغیس و فراه مواد کمکی ضروری ذخیره ، که توزیع آن قسماً آغاز گردیده و توزیع مواد کمکی برای بیش از یکهزار خانواده بی جا شده از ولایت فاریاب که فعلاً در مربوطات ولایت بادغیس اسکان دارند قبلاً شروع گردیده است. برای باشنده گان کمپ های مرکز ولایت هرات، به شمول کمپ مسلخ توزیع کمک ها، شامل ۲۰ خیمه ۱۶۱۸۶ کمپل ۳۰۸۳ تخته پلاستیک و ۲۱۶۸ کیلو گرام صابون ضد عفونی میشود، تکمیل گردیده است. در ولایت کابل برای حدود بیش از هفت هزار خانواده عودت کننده و بی جا شده جریان توزیع کمپل و ترپال پلاستیکی از جانب کمیشنری عالی مهاجرین ادامه دارد و این بر علاوه کمک هایست که تحت نظر وزارت انکشاف شهر ها و شاروالی کابل از طریق موسسات غیر حکومتی ارائه میگردد. در ولایات کنر ها و لغمان بیش از پنجصد خانواده، آسیب پذیر شناسایی گردیده و در ولایات ننگرهار و نورستان نیز این پروسه تکمیل شده است که توزیع کمک های لازم یا قبلاً آغاز گردیده و یا عنقریب آغاز خواهد شد. مردمان آسیب پذیر در ولسوالی های عمده، ولایات خوست، پکتیا، پکتیکا، و غزنی شناسایی گردیده اند. که کمک های لازم به آنها در آینده نزدیک شروع خواهد گردید.

موسسه مواد غذایی جهان، کمیته بین المللی صلیب سرخ و موسسات غیر حکومتی بین المللی توزیع مواد غذایی را در اکثر ولایت کشور آغاز نموده اند، که در جریان ماه های جنوری و فبروری در سراسر کشور تکمیل خواهد شد. این کمک ها که بیش از دو میلیون نفر را تحت پوشش قرار خواهد داد، برای فی خانواده پنجاه کیلو گرام گندم، دوازده ونیم کیلو دال نخود و یا لوبیا و چهار ونیم لیتر روغن شامل می باشد. موسسه مواد غذایی جهان از طریق بیش از صد نانوایی به اضافه تر از ۸۸۳۳ خانواده در شهر کابل ۲۰۰۰۰ خانواده د ر مزار شریف ۴۷۰۰ خانواده در شهر کندهار نان پخته فراهم می نماید. اخیراً قرار داد تحویل دهی بیش از یازده هزار تن ذغال سنگ بین وزارت معادن و صنایع و موسسه اکتید برای توزیع به مستحقین در شهر کابل و شهر های و لایات شمال و مناطق مرکزی کشور به امضا رسیده است بر علاوه مقدار ۳۸۰۰ تن ذغال سنگ از طریق فیدریشن بین المللی صلیب سرخ و سره میاشت و موسسه شلترلایف در ولایات وردک پروان، کاپیسا، لوگر، پکتیا، غزنی و کنرها توزیع خواهد شد. بر علاوه به بیشتر از ۴۰۰۰ خانواده در ولایات اطراف کابل از جانب فیدریشن بین المللی صلیب سرخ و سره میاشت کمک های دیگر از قبیل سرپناه موقت، بخاری، والبسه صورت خواهد گرفته و همچنان به مقدار ۱۱۲۰۰۰ لیتر تیل خاک اخیراً به بندر حیرتان غرض توزیع به مستحقین وارد گردیده است. کمک به ۷۴۴ خانواده مستحق در مناطق مختلف شهر کابل از جانب داکتران بی سرحد آغاز گردیده است. در این نواحی برعلاوه توزیع مجانی مواد امدادی، پروژه های عام المنفعه برای ایجاد کار برای مردم از قبیل پاک کاری شهر ها، دوختن لحاف، ساختن بخاری و غیره رویدست گرفته شده است. در این پروژه تا کنون اضافه تر از ۵۰۰۰ نفر استخدام و مصروف به کار شده اند. در شهر هرات در حدود ۱۵۰۱ خانواده، آسیب پذیر شناسایی گردیده و قرار است کمک های لازم برای آنها از طریق موسسه شلتر لایف به زودی شروع گردد.

توزیع البسه، مواد سوخت، بخاری، کمپل، بوت و غیره در شهر بامیان برای ۱۳۷۲ خانواده در شهر فیض آباد برای ۴۴۰ خانواده آغاز گردیده و در شهر کندز برای ۳۵۰ خانواده و همچنان شهر های مزار شریف، میمنه، فراه و جلال آباد توزیع مواد امدادی یا آغاز و یا عنقریب شروع خواهد گردید. در هفته اخیر کمیشنری عالی سازمان ملل برای مهاجرین اضافه از پانزده هزار بخاری را که برای سوخت ذغال چوب و تیل مناسب می باشد از طریق پروژه های ایجاد کار برای توزیع در ولایات شمال جنوب شرقی کشور تولید نمود، و علاوه بر آن کار تولید ۲۵۰۰۰ بخاری کثیرالاستفاده برای توزیع به مستحقین در جریان است، در مناطق جنوبی و جنوب غربی کشور از جمله ۲۰۰۰۰ بخاری تیل خاکی مورد ضرورت ۲۱۰۰۰ آن قبلاً توسط پروژه های ایجاد کار تولید گردیده است، در ولایات غربی کشور در حدود بیش از ۴۰۰۰ بخاری تولید و توزیع آن جریان دارد. بر علاوه تولید ۱۰۰۰۰ بخاری تیل خاک، بخاری چوبی از طریق پروژه های ایجاد کار در این ولایات در جریان است. موسسه غیر حکومتی CHF اخیراً مبلغ بیش از ده میلیون دالر امریکایی را از اداره انکشاف بین المللی ایالات متحده امریکا غرض کمک به اهالی شهر کابل در زمستان دریافت داشته است، طبق پلان طرح شده، این موسسه کمک ها را که شامل مواد ساختمانی، البسه گرم، کمپل، لحاف، بخاری و ذغال میشود به بیش از هفده هزار خانواده در شهر و ولسوالی های ولایت کابل توزیع خواهد کرد. همچنان شاروالی کابل توزیع ذغال چوب را به بیش از ۵۰۰۰ خانواده مستحق در شهر کابل آغاز نموده است.

س: در مورد باز نگهداری شاهراه ها و سرک های منتهی به روستا ها چه می گویید در حالیکه با ریزش اولین برف، شاهد راه بندان های در برخی از جاده های اصلی و فرعی بوده ایم؟

ج: با بندش ها مقابله صورت گرفته وسعی شد جاده های اصلی و فرعی بسته شده در کمترین وقت و اولین فرصت مجدداً به روی ترافیک باز گردد. با آنهم یک تیم مشترک وزارت احیا و انکشاف دهات، دفتر پروژوی ملل متحد و بخش لوژستیک ملل متحد به منظور تاسیس کمپ ها و مراکز سرک پاکی در مناطق مرکزی کشور به تاریخ ۲۷ قوس اعزام گردید که این تیم وظیفه دارد تا در بسیج اهالی در مناطق مختلف اقدام نموده و از طریق برنامه های ایجاد کار به استخدام اهالی برای باز نگهداری سرک ها بپردازد.

س: باتوجه به سال های جنگ وخشکسالی های که تاثیرات ناگواری را در زندگی کوچی ها وارد نموده است و حتی احصایه ی در دست است که کوچی ها اضافه از نود در صد مواشی شان را از دست داده وسایل امرار معاش شان به کلی از بین رفته، در طول زمستان چه اقداماتی رویدست گرفته شده است؟

ج: به زودی پروژه های کار در مقابل مواد غذایی در ولایات خوست، لغمان، ننگرهار و هرات رویدست گرفته خواهد شد که از این پروژه ها هموطنان آسیب پذیر عموماً، و کوچی ها به صورت خاص مستفید خواهند شد. در ولایات جنوب و جنوب غربی که شدیداً متاثر گردیده توزیع مجانی مواد غذایی به کوچی ها صورت خواهد گرفت. توزیع ابتدایی مواد غذایی، ضروریات دو ماهه فی خانواده را تکافومی نماید. مقدار مواد غذایی توزیع شده در مقابل کار مشابه و مساوی به مقدار اختصاص داده شده است. مواد غذایی مجانی برای هر خانواده می باشد. با در نظر داشت وضعیت منطقه، نوعیت پروژه و مسیر مهاجرت کوچی ها، پروژه های توزیع مواد غذایی در مقابل کار برای سه الی چهار ماه طرح گردیده است که در ولایت کندهار به ۳۶۸۶ در هلمند ۵۱۸۹ در فراه ۲۹۳۵ در نیمروز ۳۲۶۴ در پکتیکا ۸۳۷۹ خانواده کوچی کمک ها را طور مجانی و در ننگرهار ۷۷۴۰ در خوست ۲۹۲۵ در لغمان ۲۷۰۰ و در هرات ۱۲۷۶۵ خانواده کوچی، کمک ها را در مقابل کار دریافت خواهند داشت که سلسله بذل این کمک از دیروز بدینسو آغاز یافته است.

نشکر از توضیحات شما به امید تشخیص و نشانه گیری دقیق امداد، هموطنانی را که واقعاً در این فصل سر ما نیازمنداند و مستحق دستیگری و آرزوی اینکه مصاحبه ها و گزارش های داشته باشیم در آینده های نزدیک از مستفید شنونده گان این کمکً از سراسر کشور.

غلام غوث

برای نخستین بار...

انتقالی اسلامی افغانستان موظف ساخته شده و بزودی کار تحقیقات در رابطه با ردیابی مجرمین آغاز خواهد شد گزارش می افزاید:

این نخستین موردی است که وزارت داخله افغانستان هیاتی را بخاطر بر رسی و تحقیقات در مورد یک قضیه غیر سیاسی و سرقت موظف می سازد.

گر چه در گذشته موظفین امنیتی چندین مورد قتل و سرقت های مسلحانه را ثبت نموده بودند اما در رابطه با دستگیری عاملین قضایا تا اکنون اقدامات جدی ای صورت نپذیرفته است. قابل یاد دهانی است که قبلاً مطبوعات چاپ کابل در رابطه با فوت حاجی کفتان نگاشته بودند که مرحومی به حالت زخمی به شفاخانه انتقال شده بود اما همینکه از قتل پسران و دامادش و همچنان از عدم دستگیری قاتلین آگاهی حاصل کرد، سوزن های را که خون وسیروم را داخل وجودش می ساخت از خود دور ساخته و جان بجان آفرین تسلیم کرده بود.

افغانستان د افغانانو کله کور

ټولو افغانانو دنده ده، لازمه ده چې، د هېواد څخه بهر اوسېدونکی مسلکي او تحصیل یافته افغانان د بیا رغاونې په کار کې فعاله او رغنده برخه واخلي. خپل هېواد ته راستانه شي، او د خپل تخصص سره سم په اړوندو وزارتونو او ادارو کې کار وکړي. زموږ د وزارت اساسي دندې هم په اول گام کې د دغو مستخصصینو په هکله معلومات را ټولول او په دوهم گام کې ددوی لپاره د کار پیدا کول دي، چې په دواړو برخو کې زموږ د کارونو لا ښه پرمختگ او ددغو هېوادوالو د راستنیدو او د کار د تنظیم په هکله نړیوالې ټولنې، جهاني بانك، IOM او UNDP هم راسره د مرستو وعدې کړېدي.

خبریال: هغه افغانان چې دلته په هېواد کې دی دهغو په هکله څه کول غواړي. ښاغلی منگل حسین: دلته یو د دولت مامورین دی چې ددوی ټاکنې او دمعاش ورکول د دولت او د اړوندو څانگو په غاړه ده، او بل هغه کسان دی چې بهر ته تللی او اوس په اروپا، او امریکا او ځینو نورو هېوادو کې اوسیږي او د لږ وخت لپاره هېواد ته راځي، چې د داسوکسانو لگښت او معاشونه د هغو هېوادونو له خوا ورکول کېږي، چې دوی اوس هلته اوسېدل او دهغه ځایه افغانستان ته راغلی دي. ضروري یې بولم چې ووایم دلته کوم معاش چې هغوی ته ورکول کېږي دا هغومره نه دې لکه کوم معاش چې دوی یې هلته اخلي.

خبریال: دا افغانان که هېواد ته راستانه شي، دا به د یوه موقت وخت لپاره نه وي؟

ښاغلی منگل حسین: دا بیا د هر افغان شرایط فرق کوي که آسانتیاوې ورته برابرې شي، د کار زمینه ورته برابره شي، امنیت یې تامین وي ضرور په هېواد کې اوسیږي، او که نو داسې نه وي ښکاره خبره ده چې څوك به د دایمي اوسیدو لپاره زړه ښه نکړي، خو د انتقالي اسلامي دولت هڅه کوي د ټولو افغانانو ته د ښه ژوند امکانات او د کار زمینه برابره کړي.

خبریال: د دولت کارکوونکی شکایت لري چې معاش یې کم دی، ستاسو په نظر دغه معاش ددوی د ژوند د لومړنیو اړتیاو د پوره کولو لپاره کافی دی؟

ښاغلی منگل: دا منم چې معاش کم دی، دا ددوی د مصارفو سره نشو په پرتله کولای، خو یوه خبره چې غواړم یاده کړم، هغه داده چې په څو وروستیو کلونو کې لومړی خل دی چې د دولت مامورین په مسلسل او دوامداره توگه معاش اخستی دی، د ورځې ۲۰ روپی ماکولات یې زیات شوی او کوپوني مواد هم تر لاسه کوي، دا چې موږ اوس، اوس د قدرت د انتقال لومړی کلیزه ولمانځله، نو دا به گرانه وي چې درویشت کلنی ستونزې او مشکلات دی په لنډه موده یعني په یوه کال کې حل شي، په کار دی چې موږ د دولت ستونزې هم په پام کې ونیسو.

خبریال: د انتقالي اسلامي دولت مشر او د دولت ټول لوړ پوړې چارواکي ستاسې په شمول کله چې د کارونو د تر سره کولو او د رغنده بدلونونو خبره را منځ ته کېږي د شپږ میاشتو او یوه کال خبره راپورته کوي خو اوسني یو کال د وروستیو لسو کلونو سره معادل دی، ځکه دغه د یوه کال مرستې د وروستیو لسو کلونو د مرستو څخه زیاتې دي، د وخت خبره د خلکو د قناعت وړ خبره نه ده.

ښاغلی منگل حسین: دلته چې هر حکومت په تیرو کلونو کې د واکداری په گدی ناست شوی، هر څه یې د خانه سره وړی دا که طالبان و او که نور، کله چې د دسمبر په دویمه موقته اداره منځ ته راغله د دولت په واك کې هیڅ هم نه و، د دولتي چارو لپاره هېڅ بودجه نه وه. دا چې اوس ټولې دولتي اداري او وزراتونو فعـــــال شوی، پوهنتونونه، روغتونـــــونه، ښوونځي او نورې عام المنفعه ادارو په کارونو پیل کړیدي، دا ټول کارونه د هماغو مرستو په پیسو تر سره شویدي.

خبریال: تاسې به هغه افغانانو ته چې په ایران او پاکستان کې اوسیږي هم د کار زمینه برابره کړي؟

ښاغلی منگل حسین: موږ دا کار کوو خو یوازې هغو کسانو لپاره چې مسلکي او کارپوه کسان وي، ځکه همدوی د کار او تخصص منابع وي، په پای کې د یوې خبرې یادونه ضروري گڼم چې ووایم، په بهرنیو هېوادونو کې زموږ وطنوال که راستانه شي، بیشکه چې د هېواد د بیا رغاونې لپاره به ددولت ښه قوی مټ وی او نه راستنیدو په صورت کې هم تر ډېره حده دوی زموږ د هېواد لپاره یوه ستره مالي سرچینه ده ځکه همدا اوس د بېلابېلو هېوادونو اوسېدونکی په امریکا او اروپا کې اوسیږي د ضرورت په وخت کې خپل هېواد ته راځي هلته کار کوي، او بیا بیرته هماغه اروپایي او امریکایي هېوادو ته ځي، اوس هم ډېر ترکان، هندیان او د نورو ډېرو هېوادونو وگړي، بهرنیو هېوادونو کې کار کوي، چې په یقین سره هغوی خپلو هېوادونو ته ستري مالي گټې راوړي.

خبریال: وروستې پوښتنه مې داده چې تاسې به په بهر کې هم د خپلو کارونو د تر سره کولو په خاطر دفترونه ولرئ؟

ښاغلی منگل حسین: هو! مونږ خلور عمده څانگې لرو که په کانادا، امریکا، مرکزي آسیا او روسې او بله څانگه د افریقې او منځنې ختیځ ده، همدارنگه د کارونو د ښه اجرا او سرته رسولو په خاطر ځینې نورې څانگې هم لرو.

خبریال: ښاغلی وزیر ستاسو د مرکی نه مننه.

ناروی در...

هزاران قلم آثار تاریخی و باستانی آنکشور از موزیم ها به سرقت برده شده و گفته می شود که این آثار در بازار های اروپا و امریکا توسط دلالان آثار عتیقه و تاریخی، به قیمت های گزاف خرید و فروش می شود.

دولت افغانستان ظرف یکسال گذشته چندین بار از کشور های جهان خواسته است تا در برگردانیدن آثار تاریخی مربوط به افغانستان این کشور را یاری رسانند، تا کنون چندین کشور در این رابطه وعده همکاری سپرده اند.

د حکومت پلویانو او مخالفینو یو بل په کانو وویشل

د وینزویلا په پلازمینه کراکاس کې په زرگونو کسانو په هغو مظاهرو کې گډون درلود، چې د ولسمشر هوگاجاویس په ملاتړ او دهغه د مخالفینو له خوا دده د استعفا په اړه جوړې شوې وې. دواړه ډلو یو پر بل د کانو گوزارونه وکړل. پولیسو پر دواړو خواو څو ساعته اوښکې بهوونکی غاز استعمال کړ. د ولسمشر جاویس مخالفینو له ډېرې مودې را هیسې په اعتصاب لاس پـــــورې کړې دوی د ولسمشر د استعفا او د وخته مـــــخکې ټاکنو غوښتنه کـــــوي. دغې اعـــــتصابـــــونـــــو د وینزویـــــلا د تیلو صنعت تـــه سخت زیان اړولی دي او په ټوله نړۍ کې یې د تیلو بیې لوړې کړي دي.

د بیا رغونې په لور

په کابل کې د حرفوي زده کړې مرکز جوړیږي

افغانستان ته دبهرنیو مرستو په لړ کې جنوبي کوریاد جاپان په کنفرانس کې د پنځه څلویښت میلونو ډالرو مرسته منلې چې ددغې مرستې لس میلونه ډالره به په هېواد کې د حرفوي زده کړې د مرکزونو په جوړېدو ولګېږي.

د ارادې خبریال په دې هکله د جنوبي کوریا د بهرنیو مرستو د موسسې له استازې ښاغلی جونګ سره مرکه کړې چې د نوموړې مرکې لنډ رپوټ وړاندې کېږي. نوموړې وایي: د کوریا د مرستې څخه لس میلیونه ډالره دحرفوي تخنیکي زده کړې د ودانې او د پرسونل د روزنې لپاره بېلې شوي. چې ۶،۵ میلیونه ډالره به د کابل په ښار کې د یو ستر حرفوي مرکز د جوړېدو لپاره ولګېږي. نوموړی مرکز به د افشارو په سیمه کې د ټولنیزو علومو د انستیتوت د ودانۍ تر څنګ په عصري ډول جوړ شي چې د کار پلان یې لا د وخته پیل شوی او تر دوه زره څلورم میلادي کال پورې به د نوموړې مرکز ودانی بشپړه شي. د کار د بهیر په لړ کې به یو شمېر افغاني استادان د تخصص د بشپړولو لپاره کوریا ته واستول شي دغه راز به د حرفوي زده کړې د پالیسي، اداري سیستم، حرفوي زده کړې او د انستیتوت د اداري په څانګه کې به شپیته تنه وروزل شي. د نوموړې مرکز د ودانې د جوړښت لپاره مو د کوریا د سترو کمپنیو سره خبرې کړې او خپل افرونه یې موږ ته راکړی، د ودانې هغه ساختماني مواد چې په افغانستان کې موندل کېږي له دې ځایه او نور مواد به له کوریا څخه راوړل شي.

په دغه مرکز کې به د بریښنا، کمپیوټر، موټر، کالی ګنډلو څانګې وي چې دېرش فیصده به تیوریکي او اویا فیصده به عملي کارونه وي. ددغه مرکز فارغان به په بین المللي سویه د زده کړې سندونه تر لاسه کړي.

موږ په پام کې لرو چې د لسومیلیونو ډالرو نوره برخه د افغانستان په نورو ولایاتو کې د ورته مرکزونو په جوړولو ولګېږي خو لومړی ضروري ده چې د کابل کار پیل شي.

د koika موسسې استازې زیاتوي چې په دې مرکز کې به د افغانستان د لیسو څخه د دولسمو ټولګیو فارغان جذب شي، او کېدای شي چې کوریایي استادان تر هغو پورې تدریس وکړي چې افغاني استادان د تدریس لپاره په بشپړه توګه چمتو شي.دا چې زموږ هېواد هم ډېر بډای هېواد نه دی خو سره له هغه هم زموږ دغه مرسته د ډېرو ښو بهرنیو مرستو له جملې څخه ګڼل کېږي چې افغانستان ته به ورکړ شي.

باید ووایم چې ددی مرکز یو شمېر فارغان به د لوړو زده کړو لپاره کوریا ته هم ولیږل شي نوموړې ددې پوښتنې په ځواب کې چې د کومو شرایطو لرونکی کسان به دغه مرکز ته د زده کړې لپاره جذب شي وویل: دې مرکز ته به د افغانستان د ټولو هغو دولسمو ټولګیو فارغان چې له اتلسو کلونو څخه تر دېرشو کلونو پورې عمر ولري د آزموینې له تېرولو وروسته جذب شي او هېڅ ډول توپیر به په پام کې ونه نیول شي.

ښاغلی جونګ وایي: چې بر سېره پر دې زموږ موسسه نور کارونه هم په پام کې لري چې په افغانستان کې یې تر سره کړي زموږ هیواد کې هم یو وخت جګړه تېره شوی نو موږ د افغانستان د خلکو له حال نه خبر یو هیله مند یو چې ډېر ژر دغه هېواد د پر مختللو هېوادونو په کتار کې و دریږي.

یونسزی



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پام وړ

وایي چې انسان یو نور او لباس یې بل نور دی، دغسې انساني ژوند د ژوند د بقا لپاره له خپله خانه ډېر څه په میراث پرېږدي چې هغه انساني ژبه، کلتور، فرهنګ او هنري آثار دی. او ددې ټولو اساس او بنسټ ژبه ده نو وایي چې ژبه یو نور او ادب یې بل نور دي.

ژوندې اولس به د ژوندې ادب څښتن وي او ژوندې ادب د ټولنې وګړو ته د ژوند په تېره د ښه ژوند کولو لارې ښیي.

دلته په پورته یادوو شوو اساسونو خبرې نه کوو ځکه دا زیات وخت او پراخه لیکنه غواړي کوم څه ته چې موږ اشاره کوو او د اطلاعاتو او فرهنګ د محترم وزارت پام ورته را اړوو هغه دا چې د هجرت په مهال زموږ هېوادوال بېلابېلو ګاونډیو او د نړۍ زیاتو هېوادونو ته مهاجر شول او زیات کلونه یې په کې تېر کړل، ماشومان په کې پیدا شول، نن هغوی ځوانان دي او خپل هېواد ته چې راځي له خانه سره په شعوري او یا غیر شعوري ډول ځینې شیان راوړي چې هغه زموږ له ملي ارزښتونو ژبو، کلتور او فرهنګ سره نه لګېږي له ټولو مهمه او ضروري مسئله په لارو، هتیو، شرکتونو او موټرو باندې داسې لوحې ځړول او یا لیکنې کول چې هغه زموږ له یوې ملي ژبې سره هم برابرې نه وي چې زیاتره دغه فرهنګ له پاکستان څخه رالیږدول شویدي لکه: "احمد اینډ برادرز هیر ډریسر"، "محمود جنرل سټور"، کابل سی جلال آباد" او داسې نور...

نو زموږ له اړوندو مسئوولو ادارو څخه دا غوښتنه ده چې هم په کابل او هم د هېواد په ولایتونو کې دې د ا طلاعاتو او فرهنګ ریاستونه دغه ټکې ته پام وکړي او لوحې یا لیکنې دې په سوچه درې یا سوچه پښتو ژبو باندې ولیکي چې هم زموږ هېوادوال او زیاتره بهرنیان له دغو لیکنو سره د مخامخ کېدو په وخت کـــــــې دا خیال وکړي چـــــــې زه په افغانستان کې یم او دا د افغانستان په ملي ژبو لیکل شویدي.

جاوید

جوماتو نه یا دیني دودیزې زده کړې مرکزونه

د ټولنیزو یا اجتماعي چارو کار پوهان په دغه عقیده دي چې منځنۍ اسیا د خرافاتو، دودیز ژوندانه او متعددو دینونو د پیدایښت او ودې سیمه ده، لا تر اوسه د منځنۍ اسیا وګړي د خرافاتو تر اغېز لاندې دي. دوی لا تر اوسه په داسې شیانو عقیده لري چې هېڅ وجود نه لري او اسلام هم د هغې مخالف دي. ددې سیمې وګړي لا تر اوسه له داسې تخیلي شیانو وېره او وهم لري یا له داسې شیانو د نیکمرغۍ او سوکالۍ هیله لري چې اصلاً هېڅ وجود نه لري. دا چې افغانستان د منځنۍ اسیا دهېوادونو سره اوږده ګډه پوله لري طبعي ده چې یو پر بل باندې خو را اغېز لري، افغانستان داسې یو هېواد دی چې وګړي یې له ښاري ژوند، له پر مختللیو سیستمونو سره اشنا نه دي یواځې خو ستر ښارونه یې یادولای شو چې هغه هم له اوسنیو اسانتیاوو او پر مختللیو ښاري سیستمونو بې برخې دي. خو دا ښارونه د دیرش میلیونه افغانانو د اوسېدنې ځایونه نه دي "زه نه پوهېږم چې د افغانستان نفوس ۳۰ میلونه دی که نه؟" بلکې زموږ د هېواد د وګړو زیاته برخه په کلیوالو او له ښاره لرې پرتو. سیمو کې ژوند کوي چې ځینو سیمو او کلیو ته لا تر اوسه د ترانسپورتي وسیلو د ورتګ اسانتیاوې نه شته، دا کلي او لرې پرتې سیمې یو دودیز او کلیوال ژوند لري. هره سیمه څانته جلا دودونه او رواجونه لري هر ملیت څانته رواجونه او د اجتماعي ژوندانه ارزښتونه لري چې بیا په مجموع کې افغان اولس ترې جوړېږي او د ګډ دریځ او ګډ اجتماعي ارزښت په نظر کې نیولو سره له نړیوالې ټولنې سره ژوند کوي.

دا چې د افغانستان ټولنه یوه سوچه مسلمانه ټولنه ده خو له ښاري سیستم څخه محرومه ده ډېر وګړي یې دکلیوال ژوند په دایره کې ژوند کوي چې هر کلی بیا څانته جومات یاد دیني فرایضـــــو د ادا کولو عبادتخـــــای لـــــري د کلـــــي جـــــومات د امام یـــــا دیني عالم د یني مسئلو د نشر او خپراوي یواځینې مرکز دي.

افغانستان ته د اسلام له راتګ سره اسلامي او عربي فرهنګ دغه هېواد ته ډېر څه راوړل. چې یوه یې هم دیني زده کړه او ددیني علومو پوهنه وه دا پوهه د دیني عالمانو او ملایانو له خوا خلکو ته ښول کېده چې لا تر اوسه دوام لري.

دا دیني زده کړه د یوه درسي نصاب اومعیار څخه د باندې د کلیو ماشومانو "تجونو او هلکانو" ته د مسجد د امام له خوا ورکول کېږي. دا دیني زده کړه یوه دودیزه زده کړه ده، چې له باباآدم نه تر دې دم پورې په کې هېڅ بدلون نه دی راغلی په داسې حال کې چې په نورو اسلامي ټولنو کې ددیني زده کړو نصاب او معیارونه معلوم دي هلته په اسلامي علومو کې دتفسیر، حدیثو، عقایدو، فقې او په نور څانګو کې د تخصص زده کړې کېږي، دلته لا تر اوسه د خلاصه کېداني، رشید البیان کتابونه تدریس کېږي چې په ځینو یې اسلامي عالمان ګوتنیونه کوي او وایي چې په خلاصه کېداني کې ځینې دیني مســـــایل په سمه توګـــــــه نـــــــه دي وړاندې شـــــوي. د جوماتونو طـــــالبان د حدیثو او تفسیر لـــــه زده کړې او پوهـــــې نه دې خبر خو څو کلونه د منطقو په کتابونو تیروي.

موږ باید دې ټکې ته پام وکړو چې دا هېواد یو مسلمان هېواد دي وګړي یې ټول مسلمانان دي دوی ټول د دیني او اسلامي ارزښتونو پابند وګړي دي . خو دا زموږ د واکمنو په تېره بیا د سترو دیني عالمانو دنده ده چې د دیني مسایلو په اړه ګټور آثار خپاره کړي، د نورو ژبو پر ځای باید په دري او پښتو ژبه آثار چاپ شي، په لرې پرتو سیمو کې دیني مدرسې د واکمنو او دولت تر څارنې لاندې جوړې شي، د دیني مدرسو باید دیني د درسي نصاب جوړ شي داسې دیني درسي نصاب چې د دغې مسلماني ټولنې په درد وخوري، نه د طالبانو نظامي مدرسې چې د هېواد اکثریت ماشومان یې د ټوپک لـــــه کلچر سره اشنا کـــــول. او د هېواد مـــــاشومان یې دخپلو ارمانونو قرباني کول.

دولت باید په پوهنتونونو کې د دیني څانګو تخصص ته وده ورکړي خـــــو داسې وده چې ددغې خـــــواري ټولنې د رفاه لپاره یې عالمان په درد وخوري نـــــه دا چې عالمان یې د هېواد د یو بل ناورین عاملان شي.

رحمت الله کوثر

د هېوادوالو غوښتنې په تشو خبرو نه ځواب کېږي

د طالبانو د حکمرانۍ بې خونده او بې رنګه ورځې چې لنډې او بالاخره ختمې شوې نو افغانانو ته د سوکاله ژوند یو څه تمه پیدا شوه، ګومان کېده چې نور نو جنګسالاران هم ښایي له خرپ او ترپ ستومانه شوي او په بې وزله افغانانو به یې زړه وسوځي. ددی تر څنګ روشن فکران کېدای شي د وطن په بیا رغونه او د یو سالم نظام په منځ ته راتګ کې په ارت مټ برخه واخلي، لدې سره سره نړیوال او په خانګړې توګه ګاونډیان چې په تېرو تجربو کې پاته راغلي دا خل یې غوښتل په خپل لاس جوړه کړې د تروریزم خاله رنګه او په ځای یې د انسانیت په نورمونو ولاړ یو قانوني حکومت پدې جګړه خپلې خاوره کې له لاسه ونیسي.

کله چې په بن کې د مصلحتونو په اساس لنډمهالې دولت جوړ شو نو افغانانو ته تر معجزې کم نه و. ولس هومره سپین سترګې نه و چې پدې کم موده کې له چارواکو د ډېر څه تم وکړي،بیاژې د اداري سیستم فعالول او د لویې جرګې لپاره زمینه برابرول چې عام ولس پکې خوښمن شي.

دا جلا خبره ده چې لویه جرګه څنګه او د چا په خوښه وه خو په حقیقت کې ټولو د یوه مرکزي حکومت د جوړېدو پلوې وکړه او ددې مجبوریت په اساس چې بهرنیو مداخلو څه باندې دوه لسیزې هېواد د اړو دوړو په بې سره ګرداب بدل کړی و، خلك اړ کړل شول چې د رضایت لاښونه پورته کړي.

اوس چې د موقتي او انتقالي اداري یو کال په بشپړېدو دی نه هغه وعدې شته نه هغه شیبې چې کرزی صاحب یې د لویې جرګې په تالار کې تېر ډبولی و، نوموړې په هماغه ورځ پدې جمله د ملت د استاذو د غوښتنو او نیوکو خوله بنده کړه چې ویل یې: یوه داسې د اتصال کړی به را منځ ته کوي چې تور او سپین یې بې توپیره وي نا ممکنه ده چې ښاغلی کرزی به د هر چا پوښتنې او غوښتنې تش په خبرو خواب کړي.

پداسې حال کې چې د ملت د صبر جامونه ډك شوي یوازې د څلور کونجه کابل حکمرانی کله هم نشي کولای هغوی قانع کړي. د لودیخو ولایاتو نه د غلو او شوکو راپورونه راځي چې په لویو لارو مسافر وژل کېږي او مالونه یې د ټوپکمارو له خوا وړل کېږي. په اروزګان کې څو ورځې پخوا د خلکو لونې په سپینه ورځ د جهادي قوماندانانو له خوا وتښتول شوې، د هرات خلك بیا د ولایت له چارواکو سرټکوي چې د بشر له حقوقو سرغړونه کوي، دوی وایي چې یوازې د طالبانو د امارت کلمه د ټوپکیانو په اسلامي انتقالي دولت بدله شوې نور نو سره ورځ ده. میرمنو ته د چارواکو له خوا ګواښونه کېدل، د موسیقي او سینماګانو تړل او د پارکونو په سر د پیرو درول یې غوره بېلګې دي. دوی لدې انګېرې چې په کابل کې پراته نړیوال سوله ساتونکی ځواکونه مونږ ته بې ګټې دي. په شمال کې پراته افغانان بیا له خود سرانه حکمرانیو او ژښتو تعصوبونو اندیښمن دي چې لا تر اوسه هلته د نسبي سولې څرك هم نه لیدل کېږي.

د جنوبي ولایاتو خلك د یاغي باچاخان او د طالبانو د پاتې شونو له ویرې شپې په وینبه تېروي. ماشومان تښتول کېږي، د وکانونه وسوخول شول او سوداګرو پورې خپلې شتمنۍ،اور دي چې هره لحظه یې د مرګ ګواښ دی. د غزنی خلك په مستندو دلایلو لدې ژاړي چې د پولیسو په جامو سمبال کسان د خلکو کورونو ته اوړي، غلاوې کوي تر دې چې ډېر خله خو داسې مړي په شا او خوا موندل شوي چې موټرې یې دوی تښتولي او چلوونکي یې په بې رحمانه ډول وژل شوي وي. په قندهار کې اګر چې امریکایي ځواکونه او د والي پولیس په ګډه د ښار امنیت ساتي په ځینو ولسوالیو کې د خیریه ټولنو او نورو وګړو نقلیه وسایط تښتول شوی او خاوندان یـــــې سترګې ترلې په دښتو پرې اینې دي، د یوه عیني شاهد له قوله هغه پېښه چې د روژې میاشتې په اواخرو کې پېښه شوی یو افغان ډاکتر د ناروغ په پلمه د شپې د دوه وسله والو له خوا له کوره ایستل شوی او د یو موټر سایکل په خاطر وژل شوی دی اګر چې دا قاتلان پېژندل شوي خو هغوی په شاولي کوټ ولسوالۍ کې د یوه خایي قوماندان کسان دي او اوس یې چې دوسیه تر ولایت پورې رسیدلې د ولایت چارواکي لدې عاجز دي چې هغوی له نوموړې قوماندان څخه تر لاسه او محکمې ته وسپاري.

په ننګرهار ولایت کې هم واك د چارواکو تر مینځ ویشل شوی. استخبارات، امنیت او د ولایت اصلي منسوبین په خپلو کې سرسخته دښمنان دي چې زور یې د ولایت له خبري رسنیو (رادیو تلویزیون) او عامه وګړو وځي دي ته ورته په سلګونو داسې بیلګې شته چې دولت یا خو نه غواړي او یا هم په لوی لاس د هغه مخه نه نیسي.

د ښوونې روزنې، بشري حقوقو،ژښتو، سمتي او نژادي تعصوبونو په اړه د سمینارونو او ورکشاپونو جوړول به یوازې په کابل ښار کې ښایي هومره ګټور نه وي چې لرې پرتې سیمې. او وګړي ورته اړتیا لري. همدا راز اداري فساد یوازې په وزارتونو او د کابل ښار په ریاستونو کې نه بلکې په ټول هېواد یې لمن خوره ده، د ولایاتو دولتي مامورین په اونۍ کې یوازې یوه ورځ د خپلې حاضرۍ د امضا لپاره دفترونو ته ځي او د کار لپاره بیا ګڼ مراجعین په ورځو ورځو دولتي ادارو ته په کتارو کې ولاړ وي. د رشوت مزې په زیاترو سیمو کې تر ولسوالانو رسیدلې. په غلاو کې زیاتره د والیانو خپل محافظان متهم شوي چې څوك یې پوښتنه هم نه شي کولای.

که دولت په پراخه پیمانه او پوره قوت سره دهېواد ګوټ ګوټ ته توجه ونکړي، که د ارزیابیو واقعي کمیسیونونه ټول ولایات له نړدې ونه څېړي، کـــــه په لرې پرتو سیمو کې په مـــــلکي او نظامي چارو غور ونشي نو خدای مکړه چې فساد او فریکسون بازی به یو خل بیا ټولنه زهرجنه او بالاخره له هېڅ سره برابره کړي. د عـــــام ولس غوښتنه ده چې دولت او حـــــکومت یوازې په کابل کې نه او هېواد هـــــم یوازې کابل نه، بلـــــکې ټول ولایات تشکیلوي.

مطیع الله اباسین

اظهارات غیر مسوولانه نه تنها بی کفایتی ما را بر ملا می سازد بلکه...

معلوم نیست وقتی عده ای فرصت حرف زدن یافتن از خود گل می پاشند و یا اینکه مصوبه یی در این زمینه وجود دارد و آنها مجبور اند، باغ های سبز و سرخ را به نمایاندن بگیرند.

شب شنبه، شاید هم جالب ترین! صحبت رادیویی را شاهد بودیم که دو تن از مسوولین درجه دوم دولتی (معیین وزارت معارف و معاون ریاست اولمپیک) به کمک یک رادیو خارجی به پرسش های هموطنان مقیم در خارج مان پاسخ می دادند.

اینکه پرسش ها چه بود و پاسخ ها از کجا داده می شد فعلاً در این مختصر با آن کاری نداریم، اما گول زدن و دیده درآیی های که طی این برنامه به اجرا گرفته شد شگفت آور است.

ما و همه باشنده گان پایتخت وطن واحد مان افغانستان با چشم سر شاهدیم که در دروازه و رودی هر موسسه و نهاد دولتی با خط جلی و خوانا نوشته اند" کمبود نداریم مزاحم نشوید!" کودکان مهاجر افغان را بدون اخذ رشوه کسی مطابق به سویه و دانش و خفه که او در آن مشغول درس بوده شامل مکتب نه می سازد صد ها کارمند متخصص و با تجربه ولی بی واسطه و بی وسیله با شکم گرسنه هر روز های وزارت خانه ها را بخاطر یافتن کار می پیمایند. بی امنیتی در حدی است که حتی تلویزیون دولتی از ناچاری مجبور به اعتراف به آن گردیده و در سرویس های خبری اش از آن سخن می گوید وضعیت عرضه خدمات اجتماعی در سطحی است که عدمش به زوجود، نا برابرهای در تامین عدالت اجتماعی کار را به استخوان مردم رسانیده است، از صد ها و عده و وعید دولت مردان، تا کنون یکی را اجرا شده نمی یابیم. تبعیض، تعصب، یکه تازی، زورگویی، اقربه پروری، تبدیل ملکیت های عامه به دارای های شخصی و دها پدیده منفی دیگر هنوز ذهن ها و اجراات را انباشته است خلاصه وضعیت ما چلوصاف را مانند است و اگر موجودیت و حضور نیرو های خارجی نفی شود به یقیین که از هر کوچه و هر خانه ما باز هم دود و آتش بلند خواهد بود و جاده ها ما مملو از اجساد کشته شدن گان ما، دنیا باز هم شاهد سیل مهاجرت ها خواهد بود و برای دها و صدها خارجی در سازمان های بر رسی کننده حقوق بشر زمینه کار مساعد.

و با این همه حال اقایان فرصت یافته در پشت مکرافون چنان داد سخن از گل و گلزار بودن همه امور می زنند که تو گوی د رنیویارک یا لندن، بر کرسی های انتخابی تکیه زده و با داشتن همه امکانات هموطنان گرسنه و تشنه و بیکار شان را به عودت دعوت می نمایند. آیا این اقایان نمی دانند که همین اکنون صد ها عودت کننده در پناه های چادر خیراتی سازمان ملل بدون هیچ وسیله یی برای گرم ساختن تن های استخوانی کودکانشان، بدون هیچ داشته یی بخاطر پر ساختن شکم هایشان رو سوی آسمان خدا بلند کرده اند. این اقایان خبر ندارند که صدها خانواده عودت کننده در کلبه های ویران و بدون در و دروازه حتی سقف آنهم مال دیگران پناه گزیده اند. این اقایان واقف نیستند که نود در صد مکاتب موجود در شهر از داشتن وسایل ضروری محروم است، ما حتی نصاب واحد تعلیمی برای کودکان مان در دست نداریم، آیا این ها نمی دانند که دهان به گفتن حلوا شیرین نمی شود و اینکه اگر ما برق بیست و چار ساعته داریم. اگر موتر های دولتی در خدمت ما و خانواده های ماست. اگر شناخته های دور مان از برکت نفوذ مان چند پست و در چند ارگان دولتی تقرر یافته و از همه امتیازات آن پست ها استفاده می برند. اگر اطفال ما در بهترین مکتب شهر درس می خواند و امکانات ما او را در داشتن معلم خانگی و حضور در کورس های اموزش کمپیوتر و زبان های خارجی مددگار است اگر درجن درجن خانه وعمارت را مالکیم، اگر ضروریات ما از بودجه دولتی خریداری می شود، اگر استفاده بورس های تحصیلی و تفریحی که حق مسلم دیگران است در اختیار ما قرار دارد. اگر به عیادت مریضان ما داکتر صاحبان خود به خانه های ما مراجعه می کنند، اگر برای امنیت خانه ما یک کندک مسلح اجرای وظیفه میدارد، اگر علاوه بر کرسی دولتی چند انجو و شرکت را رهبر و صاحبیم به این معنی نیست که همه چون ما اند، و همه چون ما در این سرمای زمستان شب "سمور" می گذرانند.

بر گردیم بر اصل موضوع که چرا باغ های سرخ و سبز را نمایش می دهند؟

اگر منظور کار ایی و خدمت گذاری های ما باشد، باشنده گان افغانزمین، شنونده گان مجبور این دستگاه ها از کیف کان آن واقف اند و در همان یکی دو جمله اول نه تنها طشت رسوایی ما از بام می افتند و لقب دروغ پراگنی در آن دستگاه ها بر چسپ تازه تری می یابد بلکه ما با دست خویش تیشه بر ریشه اعتماد اداره یی وارد می آوریم که چشم امید ملیونها انسان این سر زمین به آن دوخته شده است.

و اگر هدف فریب آنعده از هموطنان مهاجر مان باشد که امروز در سراسر دنیا پراگنده اند و می توانند لقمه نانی را برای خود و فامیل هایشان دست و پا کنند و با ارسال مقادیر اسعار خارجی فامیل های را در داخل کشور و کشور های همسایه متکفل هم اند، باز هم به خطا رفته و مرتکب ظلم دیگری گشته ایم. بدین معنا که از سوی به جمع آنانی افزوده ایم که امروز یا فردا به گریبان مان بخاطر حق شان دست می اندازند و از سو دیگر نان بخور نمیری آن عده یی را هم قطع کرده ایم که با کمک ماهانه وابسته گان و دوستان شان امرار معاش می نمایند. چه شاهدیم که تا کنون بسیاری از این خانواده ها را با دروغ های شاخدار مان با مشکلات مواجه ساخته ایم.

زیرا آنانی که در خارج از کشور بخصوص در اروپا و امریکا زیست دارند زیر تاثیر آن جوامع فکر می کنند که مسوولین امور دولتی دروغی بدین بزرگی ها نمی سازند، آنها کجا آگاهند که ما چه آش های را به پذیدن در وطن مان گرفته ایم، آنها کجا میدانند که موسسات امداد رسانی بین المللی در زدو بند با ما در چه سطح و کدام پیمانه بر بیچاره گی های مان ریشخند می زنند.

و اگر آرزو از چنین اظهارات غیر مسوولانه کمک با خبرنگار بیچاره! این دستگاه ها است که با ساختن پروگرامی حقوق شان حواله می شود. راه دیگری هم فرا دست است، باور داشته باشید اگر ما راست هم بگویم و حقایق را کتمان نکنیم و آنها آنرا نشر و ثبت کنند هم حق الزحمه شان پرداخته می شود زیرا در آنجا که آنها نشسته و قضاوت کرده سر نوشت ما را معیین می کنند کسی دری یا پشتو نمی داند و اگر بداند هم فرقی برایش نمی کند که بر ما چه می گذرد.

صلاح الدین

نامهء وارده

به اداره، محترم نشریه ملی و آزاد اراده!

نخست از همه صمیمانه ترین سلامها وتمنیات نیک خود را حضور هر یک از کار کنان محترم تان در ساعت نیک تقدیم نموده صحتمندی و پیروزی هر چه بیشتر شما عزیزان را از بارگاه خداوند(ج) استدعا مینمایم. بعد از عرض احترام مجدد یاد آور میشوم که در شمارهء مسلسل (۸۳) یکشنبه ۸ جدی ۱۳۸۱ شما نامهء سر گشادهء عنوانی جناب وزیر صاحب آب و برق بچاپ رسیده بود که باز گو کنندهء مشکلات عینی اکثر همشهریان ما بود و امیدواریم جناب وزیر صاحب در زمینه توجه جدی مبذول بدارند.

محترما! بنده نیز مشکلات و پرابلم های ریاست عمومی امنیت ملی را با استفاده از ازادی نیمه بیان کنونی بازگو نموده و از شما عزیزان احترامانه خواهشمندیم تا مطالب فوق را بدون کم و کاست بچاپ برسانید تا باشد که جناب محترم رئیس صاحب دولت، رئیس صاحب عمومی امنیت ملی در زمینه توجه جدی بعمل آورند. زیرا ما نتوانستیم علناً مشکلات خود را با مسوولین بیان نمائیم آیا اما این مشکلات را به محترم قانونی صاحب مشاور امنیت داخلی در میان گذاریم و یا با محترم فهیم صاحب وزیر صاحب دفاع که در لایحه وظایف شان امورات ریاست عمومی امنیت ملی منحیث معاون اول ریاست دولت درج میباشد. و یا با محترم زلمی رسول مشاور امنیت ملی و یا با .....

۱_ قرار فرمان محترم رئیس صاحب د ۱۰۱۰۱۰ در (۲۸) اسد (۱۳۸۱) بعموم منسوبین قوای مسلح وزارت دفاع، وزارت امور داخله و ریاست عمومی امنیت ملی در صورت تکمیل میعاد معینه و داشتن بست یک ترفیع منظور و قابل اجرا است که به اساس همین فرمان منسوبین وزرات دفاع و وزارت امور داخله کارتهای ترفیع خویش را اخذ نموده اند اما در ریاست عمومی امنیت ملی بجز از یکتعداد عالیرتبه ها و اشخاص دارای شناخت از دیگران لا اجرا با قیمانده علت چیست؟

۲_ با اساس پیشنهاد قبلی همین سه ارگان متذکرهء قوای مسلح در برج حوت ۱۳۸۰ و احکام محترم رئیس صاحب دولت معاشات افزود گردید ولی افزودی عملاً اجرا نگردید و اخیراً در برج عقرب (۱۳۸۱) به اساس فیصلهء شورای محترم وزیران و منظوری محترم رئیس صاحب دولت ۱۰۱۰۱ % ۷۵ افزودی معاشات آنهم. صرف به وزارت دفاع منظور گردید در حالیکه همه میدانند که سه ارگان فوق رتب نظامی داشته و قاعدتاً باید در یک کتگوری محاسبه شوند. و قرار معلوم وزارت امور داخله نیز دوشادوش وزارت دفاع ملی معاشات افزودی پرسونل خویش را قبل از فرارسیدن روزهای عید به آنها توزیع نمودند ولی از ارگان امنیت ملی الس الیوم مورخ ۱۰-۱۰-۱۳۸۱ تادیه نگردیده چرا؟ در حالیکه اکثر کارمندان پائین رتبه خرید نیم کیلو گوشت گاو را در شب عید نداشتند بشمول نگارندهء سطور هذا که خداوند(ج) شاهد است که باسه کیلو برنج آنهم قرض از دکان سر کوچه روز عید راسپری نموده ام وقرار معلوم جناب محترم رئیس صاحب سخاوتمند امنیت ملی برای روسای امنیت ملی و معاونین آن که بدون سر پناه و موتر های لوکس و دیگر امکانات مادی بودن در شب. عید مبلغ پنج پنج هزار افغانی از پول جدید و برای سکرتر ها و محافظین آنها پانزده پانزده صد افغانی از پول دولت هدیه عیدی دادند ولی سایر کارمندان مبلغ (۱) افغانی هم دریافت نه نموده اند.

۳_ باز هم نظر به فیصله شورای محترم وزیران و منظوری محترم رئیس صاحب دولت برای عموم کارمندان دولت یکماهه معاش بخشش حواله و منظور گردید. که فردای همانروز جناب محترم وزیر صاحب مالیه طی مصاحبهء یاد آور شدند که معاش بخششی صرف بکارمندان ملکی میباشد در حالیکه در مصوبه مذکور عموم کارمندان بوده و مشخص نگردیده بود که ملکی و یا نظامی که بیاد گفتهء میافتیم که شاه میدهد و ..... نه و سوال اینجاست که کارمندان نظامی کارمند دولت میباشند و یا خیر و آیا از خود خانه و فرزندی دارند و یا خیر در حالیکه در مواقع ضرورت (۲۴) ساعت بالای وظایف خوش حاضرند.

و بلا بحال منسوبین امنیت ملی که نه در صف نظامیان محسوب گردید که افزودی معاش را بدست آورند و نه هم در صف ملکیان که یکماهه بخش را بدست آورند. از کوپون و یا تفاوت آن خو نپرسید که اصلاً در فکر کس نیست که منسوبین نیز به آن اشد ضرورت دارند.

مطالب فوق و بسا مطالب نا گفته دیگر تماماً عینی بوده و شما میتوانید از منسوبین پائین رتبه آن در خفا بپرسید. بناً لطف نموده و خواهش ما را پذیرا شده و در قسمت چاپ و نشر آن هرچه زود تر اقدام نموده ممنون سازید البته بعید از لطف شما عزیزان نخواهد بود. زیاد تر ازین شما را درد سر نداده همه تان را بخالق لایزال میسپارم.

موفق و کامگار باشید

از طرف بکتاش (دردمند) به نماینده گی از منسوبین امنیت ملی.

افغان بیسیم در خدمت شما

افغان بیسیم کارت های (تشکری) خود را جدیداً عرضه میدارد.

افغان بیسیم همواره تلاش مینماید تا ارایه خدمات صوتی و ارقامی خود را در سراسر افغانستان متمرکز نموده هر چند وقت یک گام به پیش گذارد.

به همین ارتباط اینک افغان بیسیم بر نامه دیگر خود را که عبارت از اعطای کارت های تشکری است آغاز می نماید. این کارتها جدیداً تهیه شده و سر از تاریخ ۶ جنوری سال ۲۰۰۳ در کابل ،کندهار، هرات و مزار شریف همزمان توزیع میگردد.

این برنامه در برگیرنده کارت های دو دالری تشکری است که همرا با تاپ_ آپ_ کارت های بیست دالری، یک قطعه، کارتهای پنجاه دالری سه قطعه و کارت های صد دالری شش قطعه طور رایگان به مشتریان گرامی موبایل داده میشود.

هر کارت تشکری دو دالری دو صد واحد مخابره است، مشتریان عزیز ما میتوانند آنرا از مراکز خدماتی افغان بیسیم تا زمانی که موجود است بدست آورند.

In this issue:

Sunday. Fifth of January2003
Political remark
-the research of the first none political matter
- Nervy to help for the lost relics
- Huge obstacle on the way of afghan returnees
- Floods in Europe
- 18 people were killed in Indi:
- Strikes between the government and the people
- Sadam Hussain needs to be saved from the military attack
- American troops in Pakistan
- A page about women
- A letter ;Poem
- Government, donors and the winter season
- Interview with the mini9ster of the emigrant affairs

ازشکر ریزهای گل مولا

جناب آقای کرزی در بیانیه رادیو تلویزیونی خود گفتند: برای من پیشنهاد ترمیم زندان پلچرخی را آوردند من آنرا امضا نکردم.

گل مولا: شکر به کلام ات! مه قربان کلاه قره قلی و چپن های رنگارنگ ابریشمی ات شوم، این کار، خدا ناکده، خدا ناکده، هفت کوه سیاه ده میانه، خاک ده دان بنده، به معنی بیتفاوتی بیعلاقگی به تادیب مجرمان و جنایتکاران است و موقع دادن و برائت دادن به آنها، نادیده گرفتن و چشم پوشی از آنهاست والخ....

از این گذشته شما که ماشاءالله حقوق بدان و حقوق شناس هستید و پاسدار حقوق بشر، میدانید که محبوسان به مواظبت های انسانی نیازمندند، ازین گذشته حقوق آنها از نظر اسلام نیز باید در نظر گرفته شود.

گیرم که یکتعداد علیه دولت شما و امنیت مردم و منابع عامه مرتکب جنایت، قباحت و وحشت شوند. آنها را باید یک جایی ببیندید و مواخذه کنید. اگر میخواهید آنها را عفو کرده آزاد بگذارید میتوانید پیشنهاد ترمیم زندان پلچرخی را امضا نکنید!

جناب وزیر صاحب اطلاعات و فرهنگ، در صحبتهای خصوصی خود با هنرمندان و فرهنگیان گفته اند که: شما میتوانید به تشبثات خصوصی در رقابت با دستگاهای دولتی مشغول شوید و با استفاده از فضای باز فرهنگی میتوانید به جلب افکار عامه بپردازید. چنانکه نشریه هایی نیز چنین کرده اند....

گل مولا: آخ وزیر جان! مه صدقه و سر بدل عینکای زره بینی ات شوم، تو با ای گپایت نفس و امانده، مارا کشتی! ما هم که درین وطن زنده گی میکنیم توقع داریم که دسپخت های مطبوعاتی و تلویزیونی و نشرات شما، تازه و جالب و شنیدنی و دیدنی باشد. نه شب مانده و پس مانده و سال مانده و چند دهه مانده و دیر مانده. تو خو ده ای تلویزیون مطالب و برنامه های بیست سال پیش را هر شب و روز بگوش و چشم ما میکشی یک برنامه، تازه و حتی یک زیگنال تو را در تلویزیون عرصه نکردی. تره بخدا! اینهمه درامه های تکراری، برنامه های یکنواخت و سریالها و فلماهایا سی و تاسی تو سردل ما ریخت و اشتهای ما را کور کرد، تو ده مه بگو وزیر جان که ای مطبوعات و تلویزیون باز سازی میکنی یا کهنه نوازی و جلمبر بازی؟

بابرزی

وطنه

وطـــنه تـــاکې چـــې اغـــزي کـــري څـــوك
دلـــته هغـــه خلـــك نیکـــنامه ګرځـــي
چـــا چـــې د قـــوم خـــاورې خدمـــت کـــړي دي
پـــه کـــور او کلـــی کـــې بدنامـــه ګرځـــي
د غـــم پـــه ورځ بـــه نـــاری مونـــږ وهلـــې
د خوشـــحالۍ پـــه ورځ د هـــر چـــا هـــیر شـــو
لوبـــې ســـرونو بـــاندې مونـــږ وکړلـــې
خـــو د کرســـۍ پـــه ورځ د هـــر چـــا هـــیر شـــو
چـــې ګـــران وطـــن شـــي د ژوندیـــو هدیـــره
پکـــې لـــیوان بـــه د ماښامـــه ګرځـــي
چـــې پـــه ډالـــرو تـــنخواګانې شـــولې
هغـــه اوږدې ګېـــرې هـــو چـــا لـــنډې کـــړې
چـــې خارجـــیان او انجوګـــانی شـــولی
هغـــه قبضـــې ګېـــرې هـــر چـــا لـــنډې کـــړې
پـــه افغانـــیو نوکـــری څـــوك نـــه کـــا
د خـــامو خلکـــو یـــاری خامـــه ګرځـــي
زمونـــږ روښانـــه ســـباوون بابـــرزی
د څـــو تـــیاره خلکـــو تـــیارو نـــیولی
نـــن چـــې رښتـــیا وایـــي ګونګـــې بـــه اوســـي
راتـــه پـــه ســـر ګـــذار پـــردو نـــیولی
پـــه مونـــږ رڼـــا خلکـــو بـــه خـــاورې واوړي
هـــر یـــو نظـــام بـــه بدانجامـــه ګرځـــي

دو بیتی

الا یارجـــان کـــه موتر زیر پایت
وزارت مـــیروی جـــانم فـــدایت
وزارت مـــیروی دالـــر بـــیاری
ســـلام داده بخیزم پیش پـــایت

ارادہ
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عاذل"
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
ERADA Daily
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
قیمت یك شماره ۲ افغانی
کمپوز و دیزاین: محمد ناصر"هاشمي" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان